یوسف هېواددوست ۲۰۱۳/۱۰/۳۱

ژبه او قلم باید مخاطب ولري

ادبیات څه دي؟

لغات ،ادبیات یعني شعر، یعني کیسه، رومان، ناول، یاددښت، حس، عاطفه، منطق او دې ته ورته نور. اوس نو که دا ټول سره څنګ په څنګ کېږدو، د دغو ټولو ټولګي ته ادبیات وايي. ځینو کسانو ادبیات داسې تعریف کړي: « هر هغه څه چې په خوله راځي او یا لیکل کیږي » یو خوځښت دی، کټ مټ لکه یوه غریزه، چې د انسان ټول وجود نیسي، تر ستوني پورې رارسیږي او دا نو هغه وخت دی چې یو نیم کسان لکه (شاعر او یا لیکوال) هڅه کوي او پرله پسې غواړي چې دا ووایي او یا یې ولیکي، او په دې توګه خپل ټول پټ احساس راڅرګند کړي. یو ډول په خبرو راشي، غواړي نورو ته یې ووایي، ډلو ته مخاطب شي، او یا یې چېرته ولیکي او د چا خبره خپل ډک زړه تش کړي. ځینې کسان دې ته وايي ادیب او فرهنګي. دغه کسان په خبرو راځي او یا قلمونه کاږي اودا ځکه چې په دې توګه هوسا کیږي یا د چا خبره ځان آرامه احساسوي. اوریدونکي او یا لوستونکي د هغه لپاره ښه دوستان شي داسې چې ډېر سره خواږه شي (خو، نه هر کله ځکه د کار په جریان کې په تېره بیا چې که په یوه موسسه او یا یوه سیمه کې اوسیږي نو بیا د یو بل د زغم پدیده پکې ورو ورو کمزوره شي) کله چې دا دوستان سره نږدې شي داسې دوستان چې هم خواږه دي او هم یو د بل په خبره پوهیږي، او دا نو هغه وخت دی چې لیکوال او یا ویناوال په دې پوهیږي چې (ستر رسالت ورپه غاړه دی).

ځینو کسانو بیا ادبیات فرهنګ، پوهه، تجربه، هنر، او د اود ژوند ښه طریقه بللي، خو ځینې نور بیا وايي ادبیات یعني: لغات، صرف، نحو، معاني، بیان، بدیع ،عروض، قافیه او داسې نور ورته شیان.یو شمېر نورو بیا ویلي چې: ادبیات هغه خبرې دي چې له عادي خبرو، لوړې دي او دا لوړې خبرې یا ویل شوي او یا لیکل شوي. یو ځای ما داسې ولوستل « ادب یا ادبیات هغه ډول خبرې دي چې د عادي خبرو څخه اوچتې او لوړې وي او خلک دا خبرې په خپلو مینځو کې ساتلي او یو بل ته لېږدولي او له لوستلو او اورېدلو یې بدلون ومومي او د غم، ښادۍ او یا خوند احساس کوي.» (۱)

ارسطو ادبیاتو ته هنر وايي، ځینې ورته د الفاظو هنر وايي، خو ننې ریفورمیستان ورته علم وايي. ستر ادیب ژان ریکاردو وايي: «ادبیات یعني لیکل او لوستل»،خوسیمیون دوبوار وايي:«ادبیات هغه هڅې دي چې د انسانانو لخوا انسانانو ته تر سره کیږي او موخه یې دا ده چې نړۍ انسان ته وروښودل شي او دغه څرګندول خپله عمل دی. نو ادبیات یعني عمل.»(۲)

ځینې فرانسوي ادب پوهان وايي چې ادبیات د بیان هنر دی. دغه هنر کېدای شي وینا وي او یا لیکل شوی متن .موږ ورته وطن کې (نظم او نثر) وایو او دا خبره له عربو موږ ته راغلې، کنه هماغه لوستل او لیکل عبارت دي. د ادبیاتو یو شمېر نور کسان، ادبیات (داستاني) او (تخیلي) ژبه ګڼي، خو یوه بله ډله بیا ادبیات د یوې ځانګړې ژبې کارول ګڼي .روسي څېړونکی یاکبسن وايي:« ادبیات د متداولې وینا د جوړ شوي سازمان په بل مخ اړول دي.»په دې معنی چې ادبیات عادي او روانه ژبه بدلوي، هغه پیاوړې کوي، او لکه پیپل شوې مرۍ، یو له بل سره یې تړي او ښکلا وربښي. ادبیات نا پېژندل شوي مفاهیم، د پېژندلو وړ ګرځوي. ما یو بل ځای ولوستل چې « ادبیات د کلماتو له لارې د نیتونو بیان دی...» بل ځای لیکل شوي „ادبیات هغه څرګندونې دي چې یا د ویناوو او یا د لیکنو په بڼه او یا په نوروقالبونو لکه الکترونیکي قالبونو کې ر اټول شوې وي“ (۳).

دا او دې ته ورته ډېر داسې تعریفونه ادبیاتو ته ورکړل شوي چې لا تر اوسه د بشر بشپړ قناعت یې ندی ترلاسه کړی او ښایي په دغه تعریف پسې د ګرځېدلو لړۍ ډېره موده نوره هم دوام وکړي. اوس نو موږ ګورو چې ادبیات د زړه له هغې وینا څخه عبارت ده چې ویناوال او یا لیکوال یې غواړي له یوې خوا خپل زړه تش کړي او له بلې خو خپله غوښتنه او پرېښتنه تر نورو وروروسوي. ښایي له دغه رسالت نه د هغه موخه دا وي چې، ځان، نورو او ټولنه کې بدلون راوړي او یا ښایي غواړي نورو ته درناوی وکړي، صداقت وستایي، نورو ته هوساینه راوړي.هوساینه په کلماتو کې په جملو کې او په همدې توګه وړاندې درومي. کله غواړي چې باید د خپل دوست او ملګري له خولې خبرې وکړي او کله خو چېرته پیتاوي کې نه ناستو ځلمیانو د خبرو اترو او یا کیدای شي د کوم ګودر د لارې پر سر د غلچکیو نظرونو او یا د جمعي له لمانځه او جمع نه راغلی په لاره سره اخته لمونځ ګذارانو لابې ـ شاپې غواړي تر موږه راورسوي او یا غواړي د خپل ټول ولس د هیلو ترجمان شي او د ټولنې مخکښان ټول د هغوي خوا

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ته رهبري کړي چې هلته کمال او جمال دی، کوم جمال او کمال؟ د انسانیت جمال او کمال. ښه اوس نو خبره چې دلته راغله دا خو په دې مانا ده چې وینا او لیکنه دا مهمه نه ده چې نثر دی که نظم، دا ټول چې سره راټول کړي د شعر، داستان، کیسې، ناول، رپوټ او نارو په وجود کې راټولیږي او دا د بشر اړتیا ده، زما په اند همدغه ادبیات دي او دغه ارزښت د بشر له پیدایښت نه تر اوسه پورې په پرله پسې توګه روان دی.
په دغو ټولو کې تر ټولو لرغوني ادبیات الهي کتابونه دي .زبور وګوری، تورات او انجیل او په پای کې قران، دا ټول پیاوړي ادبیات دي. شعر دی، کیسه ده، لنډه کیسه، لکه داستان، رومان او لکه ډرامه، که ښه ورته ځیر شی، نو ګورئ چې الهي کلام ټول وزن لري، لکه شعر قافیه لري او آهنګ لري، یو ډول کیسې دي. خدای انسان ته کیسې وایي، شعر وایي او ورسره مورونه خبرې کوي په خپلو کیسو او اشعارو کې خپل اتلان ستایي لکه: یوسف او مریم، موسی او ابراهیم، یعقوب او اسماعیل او داسې نور په کیسو کې رابرسېره کوي داشعرونه او دا کیسې ډېرې خوندورې او له پند څخه ډکې دي. دا په هماغه وخت کې اړتیا وه او دا دی موږ هم ورته اړتیا لرو. ادبیات یعنې اړتیا، یعنې انساني غوښتنې. زما په ګروهه دغو غوښتنو او اړتیاوو (ادبیاتو) پرون هم هم مخاطب درلود او نن یې هم لري. دا ادبیات وول چې دغه اړتیاوې یې څرګندې کړې. موږ هم که غواړو مخاطب ولرو باید اړتیاوې او غوښتنې رابرسېره کړو، ولې ـ دا ځکه چې ادبیات (نظم ـ نثر) ښوونه او روزنه ده .دغه اصل داسې مفاهیم او ارزښتونه بیانوي چې په یو نه یو ډول د ټولنې په لوړتیا او بدلون کې اغېزه لري .په قران کریم کې د (یوسف) کیسه او موزونه بیان زموږ د دغو ټولو خبرو ښه غوره بېلګه ده. دا ډېره خوږه کیسه ده، یو ښکلی شعر دی، یوه داسې کیسه ده چې ټول انساني عواطف او اړخونه لري. مینه، پاکي، نجابت، تقوی او دینداري، رخه او کینه او داسې نورې لوړې ـ ژورې. دا په اصل کې د کیسه لیکنې او شعر ویلو یو ښوونځی دی. هلته وګوري په څومره پیاوړتیا سره د کیسې شخصیتونه او اتلان جوړیږي. هلته هر کرکټر په بې ساري توګه رژې او ډایرکټ شوی. په کیسه کې په څومره پوخوالي سره د اوج نقطې راغلي، څنګه بحرانونه جوړیږي او څنګه ښایسته غوټې پرانیستل کیږي. دا ټول هلته شته، ډېر په زړه پورې او اغېزمن.
زما په ګروهه دا لړۍ په انسان کې له هماغه لومړۍ ورځې راپیل شوې او دا د ملیونونو کلونو مخکې کیسې دي چې موږ پرې ژوند کوو .دغه کیسې او موزونه لیکنې انسانانو لیکلي، یا یې انځور کړي، یا یې په نارو او سندرو ښودلي او یا یې په شفایي ډول له یو نسل نه بل نسل ته لېږدولي، خو د دې ټولو بنسټ او اساس هماغه په الهي کتابونو کې ادبیات دي. دا یو رسالت و چې انسان ترسره کړی، کوم انسان؟ دا شاعر انسان و، دا لیکوال او کیسه لیکونکی انسان و یا په بله وینا ادبیات د لیکوال انسان زېږنده ده.
لیکوال ډېر ستر رسالت لري، لیکوال د خپل پېر د ولسونو ژبه او قلم بلل کیږي، نو ځکه خو لیکوال ته ښایي چې دخپل چاپیریال او خپلو خلکو کیسې وکړي هغه هم د خپلو خلکو په ژبه او ادبیاتو. یو شمې لرغوني آثار ځکه تراوسه د خلکو په ذهن کې پاتې شوي چې لیکوالانو یې د چا خبره خپل ځان له خپل ځان څخه راوېستلی یا په بله وینا ځان یې د ټولنې برخه ګرځولې او د ټولنې له تل او د خلکو د کړنو له ژورو او تیارو ګوټونو څخه یې سوژې او مطالب راوېستلي او بېرته یې ټولنې ته ورکړي. دوي د ټولنې احساس را خپل کړی او په هر مالت، هره کوڅه، هر دوکان او چایخانه کې یا په هره ادیره او هر ګودر کې یا چېرته لرې د خلکو په اتڼونو او ساندو کې حاضر وي او یا هم هلته چې ماشومان واده کیږي، یا کونډه د بیا مېړه کولو حق نه لري، او یا هلته چې یو خان او ملک څنګه د کلي د بزګر وینې څښې او د هغه د ټول کال د کار محصول ور نه غلا کوي او ان د هغه د ښځې او اولادونو واک هم راخپلوي، دغه لیکوال حاضر وي او یا یو پاټک کې یو ږیرور، له اوږدو څڼو سره وسله په لاس د لارویانو څخه د شش کلمو امتحان اخلي او یا په هغو دفترونو کې چې یو چارواکی څومره په رشوت او فساد کې ډوب دی، دغه لیکوال ځان حاضر کړی بې له شکه هغه رښتیني ادبیات به وي او ښایي همدا لاامل وي چې د دغه راز لیکوالو کلمات مقدس شي، تلپاتې شي او په زړونو واکمن شي. دغه شان تقدس بې له شکه ژمن او تلپاتې ادبیات بلل کیږي.
موږ ډېر شاعران پېژنو چې ډېرې پاڼې یې توري کړي یا یې د کتابونو په اوسني بې بیساری ارزانۍ کې د چاپ اقبال موندلی، خو شعر یا لا اقل یوه وینا یې هم د شا اوخوا کسانو په یاد نه وي. په همدې توګه په داستان لیکنه، لنډو کیسو او ناولونو کې هم دغه راز بې شماره مثالونه لرو. په دغو ټولو ډلو کې یوازې د یو څو تنو نومونه تل یادیږي او د ادبیاتو په تأریخ کې ورڅخه یادونه کیږي، ځکه چې دوي یوه لاره څاري، یو جهت او لوری لري، یو شعار او د زړه بړاس لري. دا بړاس یا دا اشعار لیکوال د ولس د هیلو او غوښتنو له تل څخه راوېستلی. هغه ادبیات

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

چې لوری نه لري زما په اند نه اغېزمن دي او نه ګټور. په اصل کې ادبیات د بشر د زړه غږ او د اړ انسان د هیلو څرګندوی دی.
د اغېزمنو ادبیاتو څېړنه یوه داسې مسئله ده چې باید په هېواد کې د ادبیاتو د رښتیني تأریخ تر څنګ د ادبیاتو اصلي او رښتیني مخکښان د هغو له آثارو سره راوسپړل شي.موږ د اغېزمنو ادبیاتو لړی په یو بل جلا بحث کې دوام ورکړو خو اوس همدومره څرګندول غواړو چې هره لیکنه او هر شعر هم ادب نه بلل کیږي.
اغیزمن ادبیات د تأریخ درسونه دي، تأریخ د ټولنې هینداره ده، تأریخ پوهنه ده، او د همدغه تأریخ په مرسته کولای شو تېر راوسپړو او په فلسفه کې یې د هرې پېښې څرنګه والی او ولې والی؟ ومومو .د تأریخ له دغو رنو سترګو د ټولنې ادبیات هم پټ نشي پاتې کېدلی، هغه ادبیات چې اغېزمن وی. د افغانستان د تأریخ په کتنه کې دا راته روښانه څرګندیږي چې ادب او ادبیات د دغه هیواد د خلکو د دود او دستور اومانیز ژوند یوه نه بېلېدونکي برخه وه او ده .کله چا د (سالو ورمه) لیکلې او پکې یې د (اوګان) دردونه بیان کړي او یا که بیټ نیکه او یا امیر کروړ جهان پهلوان د خپلو تلپاتې بَلو او یا حماسو انګازې تر آسمانه رسولې او یا خوشحال او رحمان او یا احمد شاه ابدالی او پیر روښان د ادب او ادبیاتو له لارې د بدمرغیو څخه د خلاصون لارې ښیي او یا له چنګیز نه یې نیولې بیا تر مغولو، د ماروالنهر او صفوي مهاجمینو تیري او د خپلو بد رنګه امیرانو او حاکمانو د ظلمونو څرنګوالی د کیسو، داستانونو، بوللو، شاه نامو،حماسو، غزلونو، او سندرو له لارې د خپلو او شا او خوا ولسونو تر غوږونو رسولې، دا هماغه د عدالت غوښتنې چیغې دي چې ادبیات یې وسیله شوی ادبیات د دې ولس مبارزه وه، موخو ته د رسیدو لپاره مبارزه. ادبیات د افغان ولس د ستراتیژۍ د ترلاسه کولو یوه غوره او اغېزمنه وسیله وه .چنګیزیانو او مغولو دا وطن په بل مخ کړ، وران ویجاړ یې کړ، ها خوا صفویانو، د ماورالنهر ازبکانو، سکهانو، پنجابیانو، د فارس لشمکیانو، عرب او عجم هر یو په خپل وار دا ولس له تیغه تېر کړ، خو آیا دا هر څه پټ پاتې شول؟ آیا دا ملت چا ورک کړ؟ آیا د دې غیرتي او په نابرابر جنګونو کې اسیر قام، هویت او تأریخ کوم چا تیت او یا ورک کړ؟ نه! دا ولې؟ دا ځکه چې دې ملت ادبیات لرل. همدغه ادبیات د ولسونو د تودوخې، بیا ژوندیتوب، راویښتیا، پوهې او پایښت لا امل شول. د معاصر افغانستان څخه لږ وړاندې د خوشحال د تورو غږ تر موږ چا راورساوه؟، هغه چې د افغان په ننګ ملا تړله اولا تر اوسه زموږ په غوږو کې یې دا چیغه انګازې کوی چې خوشحال د زمانې ننګیالی دی بې له شکه همدا ادبیات و چې د ختکو، یوسفزو، روښانیانو،غوریانو، لودیانو، غزنویانو، هوتکیانو، سدوزایانو، ابدالیانواو ټولو افغانانو د پاڅونونو او اوښتونونو نارې یې له ټولو څرنګوالو سره تر موږ په پوره امانتداری رارسولې. ادبیات تأریخ دی. ادبیات د خلکو ژبه او نا ویلې خبرې دي. ادبیات ترانې دي، د ملت هغه ترانې چې لوستل، اورېدل او پوهېدل یې لکه یوه ستره خزانه، د هیوادونو پانګه ده .ما په ډېرو شعرونو، ترانو، لنډیو، کیسو، رومانونو، بوللو، حماسو او شاهنامو کې د سدوزایانو د وخت او د محمدزیانو د وخت حالات، مظالم، تیري، د حاکمانو له خوا د بېوزلی ولس رټل او ترټل او د پردیو او راز راز شین سترګو او زیړ سترګو تیري پیدا کړي. دا ادبیات دي چې موږ ته د سقاویانو له دوران نه مخکې د انګریزانو، روسانو او ډېرو نورو اجنبیانو د چال چلند کیسې کوي. دا افغاني ادبیات دي چې پر بېوزلې افغان ملت باندې د سترو ملاکانو، څمکه والو، کمپرادورانو، ملاډوله بې هویته جبارانو، مفسدینو او سودخورانو تیري او مظالم څرګندوي. د هیواد د خپلواکۍ د ترلاسه کولو د معرکو تمثیل او بیا د (میوند د ملالې) چیغه همدې لنډیو، غزلونو، کیسو او داستانونو تر موږ رارسولې. د شین سترګو انګریزانو د ناولو پلونو پر خاپونه چا تر اوسه رونړ څراغ نیولی؟ بې له شکه افغاني ادبیاتو د (سقاو د ځوی) جهالت او په دربار کې مرزبازی او د ښوونځیو د دروازو بندول چا موږ ته ترسیم کړل؟ زموږ اغیزمنو ادبیاتو. له اوس نه نیولې بیا تر زرګونو کاله مخکې (لنډۍ) چې نه یې لیکوال څرګند دی او نه یې وخت په دې برخه کې د یادونې وړ ونډه او اغېزه لرله. دغه راز (نه و نه و نه و یو باچا و) دا هغه شفاهي ادبیات و چې نه یوازې د ماشومانو او ځوانانو لپاره لکه یوه مدرسه چې د ټولې ټولنې لپاره د درس او زده کړې، سپارښتنې او ان پاڅونونو منبع وه. په شفاهي ادبیاتو کې نورو ډولو نور هم لیکله د جمعې د شپې کیسې، او د(درمندونو) او (لو) په وخت کې د سپوږمۍ تر زړه راښکونکې رڼا لاندې د کورنۍ د مشرانو نکلونه او یا د ژمې او یخنۍ په موسم کې د (تاوه خانو) او (صندلیو) تر تودخې لاندې د انا ګانو او تروروګانو کیسې او نکلونه دا ټول د ملت تأریخ، هویت، میرانه، او د ژوند څرنګوالی له ځان سره لکه یو پیغام اوریدونکو ته ورکاوه. که په تأریخي افغانستان کې د (پټې خزانې) او له هغې مخکې د یو شمېر نورو آثارو خېړېدل د افغان ملت تأریخ له ورکېدو وژغورو او ادبیاتو د ملت د ژوندون بیرغ په لاس ملت د پایښت خوا ته لارښوونه کړ نو د خپلواکۍ غوښتنې د وخت په سختو حالاتو کې د (سراج الخبار) په خېړېدو اود هغې په پاڼو کې د یوشمېر کیسه لیکونکو، شاعرانو او ادیبانو د آثارو خېړېدل هم یو بل

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

داسې توپان و چې د ادبي ګردلو اغېزې يې تر ننه د افغان ملت په فرهنګي ژوند کې محسوسوو .له همدې وروسته په افغانستان کې پښتو شعر، داستان، کيسو، لنډو کيسو، ناول، رومان او ډرامو ليکنو نه يوازې دود وموند چې ورځې تر بلې يې چټکه پرمختيا کوله. دلته يوه پوښتنه راپيدا کيږي او هغه دا چې دغه شان خوځنده او اغېزمنو ادبياتو لپاره مګر پخوا بنسټونه نه وو ايښودل شوي؟ بې له شکه .د شاه امان الله په مرسته د طرزی د کورنۍ ادبي هاند، د مولوی عبدالروف خان کندهاري ادبي باندارونه، د شاه حبيب الله خان په وخت کې د دربار مشاعرو او ادبي غونډو او ان د امير عبدالرحمن خان رسا ليکوالی او هنرمندی د همدغه شان اغېزمنو ادبياتو لپاره مظبوط بنسټونه کېښودل افغان ملت تل يو فرهنګي ولس و او وي به .

دلته په روان بحث کې غواړم په دې خبره ټينګار وکړم چې د معاصر افغانستان د ادبياتو د بيان بنسټونه لا ډېر مخکې کله چې د امير محمد اعظم خان په وخت کې علامه سيد جمال الدين افغان غوښتل د ځان او د ولس د عقايدو دبيان لپاره خپروني ولري (۴) او د هغو له لارې د ادبياتو، هغه هم اغېزمنو ادبياتو لپاره د څرګندېدو زمينې برابرې کړي، او همداسې يې درواخله تر سيد مخکې زماني لا هغه وخت چې شيخ اسعد(۵)خپلې بوللې ليکلې وې، موجود و. ځکه په ټولنه کې ادبيات موجود و او دغه شته ادبيات بايد خپاره شوي وای. له همدې وجې ده چې پښتو ادب د يو رونړ څراغ تر روښنايۍ لاندې پرمخ روان و، هغه څراغ چې افغان ملت له ناخوالو، تېرېو او مظالمو سره د مبارزې لپاره روښانه کړی و. په معاصر افغان ادبي يون کې داسې هاند تر ډېره بريده تر سترګو کيږي چې د اغېزمنو ادبياتو مخکښانو چې پخپله هم تکړه خبريالان و، د علمی ژورناليزم د تاسيس او دودولو له لارې، د ولس له خولې موثر ادبيات نه يوازې ژوندي ساتل چې ببرته ولس او شا اوخوا نړېوالو ته وروسول هم غوښتل. او همدغلته ده چې موږ ته په دغه پېړی کې دعلامه سيد جمال الدين افغان نوم تر بل هر چا مخکې ترسترګو کيږي، ان کله چې هغه له هېواد نه وتلو ته اړ شو نو د وخت باچا امير شير علي خان ته يې د خپلو نورو وړانديزونو تر څنګ په افغانستان کې د يوې پياوړې خپروني د تاسيس وړانديز هم وکړ. استاد مرحوم عبدالروف بېنوا په يوې مقاله کې په دې باب داسې ليکلي: „...امير په ۱۲۹۰هـ ق کال د سيد له هغه پيشنهاد سره موافقه وکړه او دشمس النهار د جريدې د خپرولو امر يې صادر کړ...“ (۶).د اغېزمنو ادبياتو د خپراوۍ په کار کې د ژورناليزم پر وندې به که خدای کول په ورپسې بحثونو کې رڼا واچوو، خو اوس موږ خپلې اصلي خبرې ته راګرځو او هغه په افغان ولس کې د اغېزمنو ادبياتو شته والی دی چې ريښې يې ډېرو زړو پېړيو ته رسيږي او په دې لړ کې د پښتو شفاهي اغېزمن ادب ونډه د يادونې وړ ده. که څه هم د شفاهي ادب زياتره برخه د راويانو تر مړينې وروسته بيخې له منځه تللې، او د دې ادب بشپړه راټولونه هم يو ستر او نه ختمېدونکی کار دی، خو پښتني چاپيريال تل د يو خوځنده او ژوندي ملت په توګه يو په بل پسې دغه شان نوي ادبيات زېږولي او د خپل پايښت نښې يې ژوندۍ ساتلي دي. دغو ادبياتو د ملت له دردونو، ناخوالو و بدمرغيو او ورسره څنګ کې يې د دوي له اتلواليو، مېړانې، خوښيو او اړيکو هم استازيتوب کړی. دغو ادبياتو غوره نمونې چې سينه په سينه يو نسل نه بل نسل ته رسيدلې همدا لنډۍ، سندرې، سروکې، بګتې، ساندې، ناري، کاکړی، پراکی، غږونه، د نکلونو ناري، فالونه، د ښادۍ او غم سندې، نکلونه،دغه راز د ماشومانو سندرې لکه اکو بکو، نه و نه و يو باچا و، او يا سوال او ځواب(ماشومان يو له بله پوښتنې کوي او ځوابونه ورکوي)او بله د کيسې برخه ده چې لکه ذهني آزموينه او داسې نور. موږ دلته نيت نه لرو چې د پښتو ادبياتو تأريخ او ډولونه يې په ټولو جزياتو سره بيان کړو، ځکه موږ په پښتو ادبياتو کې د هغو په اغېزمنتيا خبرې کوو او غواړو دا څرګنده کړو چې افغان ملت له خپل پيدايښته تر ننه ادب پاله ملت و او دی. او دا ملت د خپلو ادبياتو په لړ کې داسې توکي لري چې اغېزمن او موثر ادبيات يې بللی شو چې يوه بېلګه يې همدا شفاهي ادبيات دي. د پښتو ادبياتو دغه برخه(شفاهي)ځکه ډېره اغېزمنه وه چې طبيعي خصوصيات لري. تصنع او لاس وهنه په کې نه شته او د پښتنو په يوې نالوستې ټولنه کې يې د ښوونځيو او پوهنځيو کار کړی. په دغو ادبياتو کې ځکه اغېزمنتيا وه چې له متن څخه يې نه يوازې د ژوند څرنګوالی ښکارېده، چې په دې ادب کې تأريخ، ژورناليزم، فلسفه،جغرافيه، ټولنيز او توليدي مناسبات، د ټولنې طبقاتي وېش، اقتصاد او بازار، دين او سياست دا ټول په ښکاره توګه ځان ښيي. د دغو ادبياتو ژوره مطالعه دا راښيي چې په پښتني چاپيريال کې هغو څومره اغېزې ښندلې او د څومره د لويو بدلونونو او اوښتونونو لا امل ګرځېدلې (د بېلګې په توګه د ميوند د حماسې لنډۍ.).زما په ګروهه پښتانه د دغه شان اغېزمنو ادبياتو په لرلو سره په نړۍ کې له بډايو ملتونو څخه شمېرل کيږي. په هماغه تېرو نالوستو زمانو او شرايطو کې هماغو ادبياتو کاري او اغېزناکه ونډه درلوده، خو په معاصر افغانستان کې څه ؟

په تېرو بحثونو کې مو په دې خبرې وکړې چې له ډېرو لرغونو زمانو څخه بيا د افغانستان تر معاصر وخت پورې پښتو ادب په خپلو بيلا بيلو ډولونو کې دومره اغېزمن و چې زياتره مواردو کې يې د پښتني چاپيريال لپاره د

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ښوونځيو او پو هنځيو رول ترسره کړی. همدغه ادبيات دومره اغېزمن و چې د دې هېواد او د دغه تأريخي ولس لپاره لکه تأريخ داسې ځليدلي او په خپله غېږ کې يې د افغان ولس تېر، او د تېر څرنګوالی خوندي کړی او تر موږ پورې رارسولی. وروسته بيا په معاصر افغانستان کې او د تحميلي کرښې هاخوا پښتونخوا کې چې کوم ادبيات ايجاد شوي دا ټول د هماغو کلاسيکو ادبياتو پر ستنو ولاړ، خو له نوي رنګ او نوي پيغام سره وه .معاصرو ادبياتو د پښتو سيالي د سيمې او نړۍ له ادبياتو سره که برابره نه کړه، خو لږ تر لږه د افغان ولس د بيدارۍ او ښو ښايسته اوښتونونو لا امل وګرځېدل. پښتو نثر او نظم په دې دوره کې ډېره وده او لازم بدلونونه راخپل کړل په دې هکله لوی استاد علامه صديق الله رښتين وايي: „ پښتو نثر په دې موجوده عصر کښې لکه چه ګورو د ترقۍ پر لارو قدم ايښی دی. لنډه دا چې د زمانې د غوښتنې سره سم د پښتو په موجوده نثر کښې پوره تحول او بدلون راغلی.“ (۷) د دې عصر د ادبياتو اغېزه دومره زياته وه چې نه يوازې په افغانستان چې په سيمه کې يې د استبداد، تيري او ناخوالو پرضد د ولسونو د پيوستون ستونزمنه چاره په بريالۍ توګه ترسره کړه او افغانستان د خپلواکۍ غوښتونکو مبارزو او بيا وروسته د مشروطيت د ترلاسه کولو جوګه شو. بيا هم د ټولو نه مخکې د سيد جمال الدين د افکارو او فلسفې تاثيرات او اغېزې په دې ادبياتو کې څرکندې ښکاري. د دغو تحول غوښتونکی ادبياتو ډېر داسې مخکښان شته چې آثارو يې په زړونو اغېزه کوله او کتابونه به يې لاس په لاس ګرځېدل .د استاد عبدلحي حبيبي لنډو کيسو، د سيد رسول رسا ،رسا ليکنو،د سيد راحت زاخيلي شليلي پڼې، دعبدالخالق خان خليق تخليقات، دعبدالروف بينوا اشعارو او نثرونو، دعبدالله جان اثير ليکنو، داجمل خټک د غيرت چيغو،د محمد عثمان پښتون ليکنو، دمولوی عبدالروف کندهاري ژورناليزم او نثرونو، د محمد ګل خان مومند نظم او نثر، د امير حمزه شينواری غزلياتو، دغني خان غني شعرونو ،د برهان الدين کشککي کسيو، دګل پاچا الفت رازونو، دعبدالرحمن پژواک ځواکمن اشعار، د شمس الدين مجروح فلسفي ادب، دعبدالشکور رشاد مقالو او نظمونو، دعلامه قيام الدين خادم تحقيق او زړه راښکوونکو اشعارو، د عبدالهادي داوي په قلم د اوښکو کاروانونه، عبدالله افغان نوی نثرونو، دعبدالباري جهاني اشعارو، د محب الرحمن هوسا ژورناليزم او منلو اشعارو، د ميراجان سيال کيسو، د محمد رسول پښتون نثر، په هرات کې د حاذقه اشعار، د مېرمن حميرا او د روح افزا ادبياتو، د محمد امين خوږيانی ليکنو او داسې د په لسګونو نورو ليکوالو، ژورناليستانو او فرهنګيانو کتابونه او اثار دومره اغېزناک او کاري و چې د لوستونکو افکار به يې بدلول، هېواد دوستي به يې په زړونو کې ايجادوله، او بدلون ته به يې ولس هڅاوو. د همدغو او د دوي په شان د بې شمېره نورو فرهنګيانو آثار د خپل ارزښت او اغېز له مخې په وار وار چاپ او د بيا چاپ اړتيا به يې محسوسېدله. دا ادبيات که ماشوم ته و، که نالوستي ځوان او يا بوډا ته و، او يا مېرمنو او منورو ځلميانو ته ليکل شوي و د يو شعار خاوندان وول. يو پيام يې درلود .هسې يوه تشه کيسه او يا د سرګرمۍ کوم نکل به نه وو، دا به کوم د خط او خال د ستايلو شعر نه و، دا به د چاپيريال او طبيعيت د ښکلا او ګل و بلبل ستاينه او يا په دې او هغه کوڅه کې د چکر وهلو بيان نه وه. دې آثارو کې د خپلواکۍ اړتيا تمثيلېدله، دې نکلونو، داستانونو، شعر او ناولونو کې د ملت طبقاتي ظالمانه ويش تمثيلېده او دې اثارو کې د بيدارۍ او پاڅونونو ترانې زمزمه کېدې. همدې ترانو او ليکنو د ملت بيداري خو پرېږده چې د باچايانو په دربارونو کې تغيرات او تحولات راوستل. لږ يې به نه ځو شاه امان الله د همدغو اغېزمنو ادبيانو او ادبيانو تر اغېز لاندې دننه په دربار کې هغه څه کول چې هم يې د پلار خلاف و او هم د نظام پر خلاف زموږ په شان هېوادو کې همدغه شان ادبياتو ته اړتيا ده. هغه وخت که ادبيات ډېر نه و، خو موثر او اغېزناک و. هغه وخت دا دومره ډېر تخنيکي امکانات لکه چې اوس شته دا هغه وخت نه و، خو که په لاس ليکنې کېدې او يا په سختۍ سره چا چېرته يوه نيمه چاپخانه موندله، نو اقتصاد دومره کمزوری و چې اثر به په يو خراب کاغذ او په لږه شمېر کې چاپ شو او چا ته به نه رسېده، خو اغېزمنتيا يې دومره وه چې خلکو به په لاس کاپي کول او يو بل ته به يې رسول. که هغه وخت محمود طرزي او يا مولوي عبدالروف خان کندهاري يا محمد ګل خان مومند کولای شوای باچا وغندي او يرغلګر بربنډ کړي ولې وروستيو پښځوسو کلونو کې دا اغېزمنتيا زموږ په ادبياتو کې نشته؟ پرون که د روس يرغل زموږ اغېزمنو ادبياتو پر شا وتنبوو، لا امل يې دا وه چې د هر ريښتيني مجاهد په هر قدم پسې د همدغو اغېزمنو ادبياتو ناري وي، لکه مور چې د سفر په وخت کې مساپر ځوی ته دوعا ورکوي. هلته يو شعار وه، يوه موخه وه ، يو پيام وه چې بايد تر ملته رسېدلی وای، او دا کار پرته له ځان غوښتنې زموږ اغېزمنو ادبياتو وکړ. دلته دا خبره رايادوه شوه چې نن موږ تر بل هر وخت ډېر شهرت طلبه او پيسه دوسته شوي يو. د نوبل د جايزې ګټونکی او مشهور امريکايي ليکوال ويليام فاکنر وايي: „اديب د شهرت او په ټولنه کې د ځان لپاره د کوم مقام د پيدا کولو لپاره ليکوالي نه کوي، د پيسو لپاره خو بيخي دا کار نه کوي، خو يوازې د دې لپاره ليکنه کوي چې هغه يوازې په تخليق کې خپله هوساينه او سکون ګوري.“(۸). او يا دا هماغه خبره به وي چې

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

وايي: „ ډېر شي نو ګنډېر شي „ .اوس پرته له يو د ګوتو په شمېر ليکوالو او اديبانو چې نظم يا نثر يې يو پيغام او يا يوه نوې خبره لري، دا نور ټول بس د چا خبره د (سياهي لشکر) په ډله کې دي چې ان دا د يو شمېر په اصطلاح تخليقات د نه اغېزمنتوب له کبله په هماغه يو ځل لوستو هم نه ارزي. د مطلق شاهي نظام په وخت کې د هر شاعر شعر او د هر کيسه ليکونکي لنډې کيسې خلک خپلو کې په پټه غونډو جوړولو ته هڅول. د سياسي تحرک او ان د ګوندونو او خيباني مظاهراتو راويستلو او ځرګندولو ته يې ترغيبول خو اوس څه؟ د مطلقې باچاهۍ او د ملوک الطوايفي سيستم مظالمو ته همدغو له اغېزو ډکو ادبياتو بدلون ورکړ. د مشروطه نظام په جوړېدو کې همدغو اغيزمنو ادبياتو تأريخي ونډه درلوده. چا د مطبوعاتو د آزادۍ غږ پورته کړ؟ چا جرګه او پارلمان په حاکمانو ومانه؟ چا د خان، ملک او ملا له کرغېړنو څېرو او پر مظلوم ولس د هغوي د تېريو پرده وڅېرله؟دا همدغه موثر او اغېزمن ادبيات و چې لکه مرمۍ د افغانستان د خلکو د دښمنانو پر زړونو ور وربېدلې او هر ناخواله يې له پښو راغورځوله. هيوادپالونکو او ژمنو ليکوالو د پښتو ادبياتو له ټولو ژانرونو څخه په ګټې اخيستنې،خپله ټولنه خوځنده، متحرکه، ژوندۍ ساتلې وه. هغه وخت که يوه پښتو ټولنه وه، خو دومره لکه پټنګان دا افغان ليکوال پرې راټول وو چې له ورځنيو ګرمو بحثونو به، دومره مصروف شول چې خپل کور ته تګ به يې هير کړ. اوس څه؟ دا دومره ډېرې ټولنې، دا دومره پراخ رسنيز امکانات، دا دومره پيسې، دا دومره ډېره پوهه او علمي تجهيز دا ټول نه شي د هماغه وخت د ليکوالو د انجمن او يا پښتو ټولنې نيمايي ګرمي هم ايجاد کړي.! موږ نه وايو چې هغه وخت هر څه شوي او اوس هيڅ هم نه دي شوي. نه نام خدا ښه پراخ کار شوی او پښتو د سيالانو سره سياله ادبي ژبه شوي، خو خبره په اغېزمنتيا کې ده که موږ اوس يو شيخ کته يا شيخ اسعد سوري يا کروړ او بيټ نيکه نه شو جوړولای، يا خوشحال بابا او يا رحمان بيا نه شو موندلی لا اقل د حمزه بابا معادل خو بايد ولرو، څه نا څه د بينوا، خادم، کې او يا سيد رسول رسا يا راحت زاخيلي برابر اديبان او د هغوي موثر ادبي توکي خو ولرو. په فرهنګي کړيو کې دوه نظرونه شته. يوه ډله وايي دا چې ډېر شول کار نيمګړی شو. دا بله ډله بيا وايي چې کمښت او لږ والی د نه موثريت سبب شوی. بايد ليکوالان او کتابونه ډېر شي، خو زه بيا بله ګروهه لرم. زه وايم لومړی دې پېرزوينه ډېره شي، بيا دې پلټنه او برسيرنه پراخه شي، بيا به دا ټولو سالمو رسنيو ته راباسو او په پای کې هغه څه چې تر ټولو مهمه دي بايد کره کتنه زياته شي. موږ کره کتنه نه لرو او که لرو يې په لومړنيو پوړيو کې ده. ځان ستاينه، حسادت، نورو ته موقع نه ورکول او د آثارو سالمه کره کتنه هيرول دا به موږ نور هم نيمګړي وساتي. په دې برخه کې زما د پای خبره دا ده چې افغان ټولنه له بد ډول مظالمو سره مخ ده، داسې ښکاري چې دا ناکردې به لا دوام کوي، نو د دغو ناخوالو د لرې کولو لپاره د نورو اوښتونونو تر څنګ اغېزمنو ادبي پيوستون او اوښتونونو ته اړتيا لري. زموږ اغيزمن ادبيات بايد د خپلو موخو د ځرګندولو لپاره د ټولنې له بطن نه خپل شعارونه راوباسي. تر بيا

۱ ـ آشنايي با نقد ادبي ـ ليکوال: عبدالحسين زرين کوب ـ د سخن خپرندويه ټولنه ـ ۱۳۷۴ ل ـ ۲۵ مخ.
http://www.civilica.com/Paper-NCNRPL01I ۲ ـ ادبيات ـ شيما قاسمي
http://www.aftabir.com/lifestyle/view/ ۳ ـ وګورئ دا پاڼه
۴ ـ آريانا مجله ـ۱۳۳۰ ش، د غوايي د مياشتې ګڼه د شمس النهار په هکله د استاد عبدالروف بېنوا مقاله. لومړی مخ. په دې مقاله کې د دې خبرې يادونه شوې چې سيد جمال الدين افغان د امير محمد اعظم خان په وخت کې د (کابل) په نوم يوه خپرونه تاسيس کړه .
۵ ـ شيخ اسعد سوری: دا سړی د پښتو ادبياتو يوه غوره لرغوني څېره ده چې د څېړونکي زلمي هېوادمل په وينا: „ د محمد زوی و، په غور کې استوګنه درلوده او د غور د سوري شاهانو په دربار کې د عزت خاوند و.(وګورئ ـ د پښتو ادبياتو تأريخ ـزلمی هېوادمل، ۴۴ مخ.).د شيخ اسعد يوه تأريخي قصيده ده چې څلور بيتونه يې دلته ذکروم

د فلک له چارو څه وکړم کوکار — زمولوي هر ګل چې خاندي په بهار
د واکمن له سره خول پرېباسي مړ سي — د بېوزلو ويني توی کاندي خونخوار

۶ ـ آريانا مجله ـ د شمس النهار په نامه مقاله / هماغه ګڼه ـ ۷مخ ـ عبدالروف بېنوا
۷ـ د پښتو ادبياتو تأريخ ليکوال صديق الله رشتين پښتو ټولنه:۱۳۲۵ل ۱۰۷ مخ
۸ـ تنقيدي کرښې د سليم راز د ادبي مقالو ټولګه ـ۱۹۹۹ز ـ۱۷۹ مخ ـ چاپ ځای: محله جنګي پيښور ماسټر پرس

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ